**اې ملتپاله رژيمونو! ولې مظلوم مسلمانان ځوروئ او ځای نه ورکوئ!؟ ایا کډوال د پټنځای په لټه کې دي، که د جرم؟**

**خبر:**

د سپټمبر په ۷مه، شاوخوا ۳سوه روهینګیايي کډوال تقریبا د ٦میاشتو لپاره په بحر کې له پاتې کیدو وروسته، انډونیزیا ته راغلل. په دې ډله کې 181 ښځې او 14 ماشومان وو او د سماترا شمالي ساحل کې د ځایي مسلمانانو لخوا وژغورل شول. دغه کډوال په جنوبي بنګله دېش کې په دې هیله د مالیزیا پر لور روان شوي، چې په میانمار کې تر تعقیب وروسته، په اکثریت مسلمان لرونکي هېواد کې پټنځای ترلاسه کړي. خو د کورونا ویروس د ناروغۍ له امله د پولې د تړل کېدو په پلمه، د رارسیدو پرمهال ایستل شوي وو. ویل کېږي له ۳۰ زیات کډوال د سفر پر محال وژل شوي وو. له دې پیښې یوه ورځ وروسته، د دوو سرتیرو لخوا د ویډیو په بڼه د شاهدیو راپورونه خپاره شول، چې د میانمار اردو یې پریښې وه. دوی د نسل وژنې په کمپاین کې د روهینګیا مسلمانانو د له منځه وړو لپاره، د میانمار د اردو د ارادې پیژندل شوي حقیقت تصدیق کولو شواهد وړاندې کړل. دغو سرتېرو د میانمار د اردو لخوا پر روهنګیایي ملکي وګړو د اعدام، ډله ییزو وژنو، د کلیو ویجاړولو او د جنسي ځورونو بې شمېره قضیې په ډاګه کړې؛ هغه چې د لوړ پوړو چارواکو لخوا ویل کېدل: هېڅوک درنه ژوندي پاتې نه شي، که ماشومان دي او که لویان!

**تبصره:**

په میانمار کې د روهینګیا مسلمانانو له کړاوونو او وحشتونو سربیره، په سیمه کې ملتپال مسلمان رژیمونه دا بې کسه او مظلوم مسلمانان د ځینو ناروغیو په پلمه په کمپونو کې محدودوي او یا یې هم په جرم له تورنولو وروسته، د زندان تورو تمبو ته لېږي. دا کډوال د بنګله دېش د کاکس بازار په کمپ کې له ټولو انساني حقونو محروم دي. هغه چې په سلګونو روهنګیایي مسلمان کډوال پکې په دې تمه شپې او ورځې تېروي، چې ګوندې د مالیزیا په اسلامي خاورو کې به د روهنګیایي جابر رژیم له ظلمه خوندي پټنځای پیدا کړي او د همدې لپاره خپل ژوند په خطر کې اچوي. د راپور پر اساس سږ کال یوازې اته سوه روهنګیایي کډوال مالیزیا ته رسیدلي او  داسې انګیرل کېږي، چې پاتې یې بنګله دېش سره پر کرښه مړه شوي. دې فاسدو ریژیمونو ددې پرځای چې د خپلو مسلمانو وروڼو او خویندو د ساتنې په پار مرسته وکړي، ترڅو مالیزیا ته ورسېږي، برعکس دوی یې په بحر کې ډوبېدو ته اړ کړل ځکه چې د دې ملېشو افکار د ملي پولو په چټل فکر سره مسموم او زهري شوي دي. که کوم عزتمند انسان د روهینګیا مسلمانانو په حالت، چې له ناخوالو سره مخ دي او سرپنا ته اړتیا لري، پوه شي، نو زړه به یې له ډېره غمه ټوټه ټوټه شي. دا د اسلامي نړۍ رژیمونو لپاره د مرګ ځای دی.

مالیزیایي چارواکو ویلي، چې یوازې سږ کال مو له روهینګیایي کډوالو ډکې ۲۲ کښتۍ بېرته شړلي دي. په داسې حال کې چې د روان کال په جون کې د اندونیزیا سیمه ییزو چارواکو، هغو سل روهینګیایي مسلمانانو ته، چې له څلور میاشتني سفر وروسته ساحل ته په رسیدو وو، د پټنځای له ورکولو ډډه کړې ده. ګډوال د قاچاقبرانو له خوا وهل شوي او د ژوندي پاتې کېدو لپاره یې خپلو میتیازو څښلو ته اړ کړي دي. د یادې کښتۍ کډوال، د اچه (Aceh) ځایي مسلمانانو وژغورل، د اچه سیمي مسلمانان، د ځایي چارواکو د ناانساني کړنو او روان حالت له کبله، سخت په غوسه وو. ان کله چې اندونیزیا ته د وروستي روهینګیایي کډوالو په رارسېدو، همدې ځایي مسلمانانو  د خواړو او کالیو مرسته ورسره وکړه. د عیسیه اوسیدونکو رویټرز ته وویل: «موږ د دوی حالت ته اندیښمن یو ... دوی د انسانیت په نوم مرستې ته اړتیا لري ... دوی زموږ په څېر انسانان دي.»  د بشریت لپاره دا د ایماني او اسلامي کړنو یوه بېلګه ده، چې د انسان پالنې او بشري حقونو له بنسټونو سره پکې څرګند توپیر ښکاري؛ هغه چې د ملتپالو او نشنلستي دولتونو لخوا پرمخ وړل کېږي!

نه یوازې دا چې دغې کرغېړنو ملتپاله رژیمونو روهینګیایان له دې غمجن حالت سره مخ کړل، بلکې په دې اړه یې د پردې پالو تر عنوان لاندې، له نفرت او کرکې ډک تبلیغات رامنځته کړل. لکه مالیزیا چې دغه هېواد ته د ننوتلو د جرم په خاطر یې بې ګناه کسانو ته توقیف خونې او زندانونه جوړ کړل او له همدې لارې دوی ته د ځورونې او استعمار نوی څپرکی پرانېزي. د روان کال د مې په لومړۍ اونۍ کې شاوخوا شپږسوه بې سنده مهاجر په مالیزیا کې نیول شوي وو. په داسې حال کې چې په جون کې د دغې هېواد یوې محکمې ۳۱ روهینګیایي نارینه او ۹ ښځې، د مالیزیا د کډوالۍ له قانون څخه د سرغړونې په جرم په ۷میاشتې بند محکوم کړي وو. ان ځینې سړي یې په سوټیو وهلي وو او وروسته یې دغه کار درولی و. د روهینګیا ماشومان هم تورن شوي او د زندان له شرایطو سره مخ دي. د مالیزیا حکومت نوي مقررات تصویب کړي، ترڅو د کورونو مالکان خپل ملکیتونه مهاجرو ټولنو ته په کرایه ورکړي او دا د روهینګیا پروړاندې د رژیم لخوا رامنځته شوی شدید منفي حرکت دی. دغه راز اوس ځینې مرستندویه کارګران د حکومتي چارواکو له خوا د شخړې د ترلاسه کولو له امله کډوالو ته خواړه او نور اړین توکي چمتو کوي.

د اسلامي خاورو دغه ملي او نشنلیستي دولتونو، د پانګوالي تر چتر لاندې ټول انسانیت له پامه غورځولی دی. د دوی د بې زړه او ډارنو قوانینو پر بنسټ، له ظلم او بې وسه قربانیو څخه د خلاصون لپاره د پټنځای لټول هم جرم دی. په حقیقت کې دا هغه رژیمونه دي، چې د پردیو په لاس جوړ شوي او د امت په نظر همدوی ریښتیني مجرمین دي. الله سبحانه وتعالی مومنانو ته امر کوي، چې د خپلو مظلومو وروڼو لاسنیوی وکړي او فرمایي:

**﴿في الدين فعليكم النصر...﴾**[8:72]

***ژباړه:*** *تاسو به په دين کې بريا ترلاسه کړئ! او که دوی د دين لپاره له تاسو څخه مرسته وغواړي، نو تاسو بايد مرسته ورسره وکړئ.*

دا يو حقيقت دی چې د روهينګيا مسلمانان د دغې رژيمونو لپاره ارزښت نه لري. په داسې حال کې چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي: «**المسلم اخو المسلم، لا يظلمه، ولايسلمه**» ***ژباړه:*** *مسلمان د مسلمان ورور دی؛ نه پرې ظلم کوي او نه يې ظلم ته پرېږدي.* همدارنګه الله سبحانه وتعالی د مومن د پاکوالي او لوړوالي په هکله فرمايي:

**﴿لزوال الدنيا أهون على الله من قتل مؤمن بغير حق﴾**

***ژباړه:*** *الله تعالی ته د نړۍ له ختميدو د مؤمن ناحقه قتل سخت دی.*

د نړۍ له مينځه وړل په دې معنی دي چې په ناحقه يو مومن ووژل شي.

په حقيقت کې دغو بې شعوره نشنلستي او ملي رژيمونو، امت په خالي ميدان پرېښود او مظلومو پناه غوښتونکو ته په سپکه سترګه ګوري، نو دغه رژيمونه پر امت د يوې ورځې د حاکميت وړ هم نه دي! ايا موږ د نبوت پر منهج سمدستي د خلافت دولت رامنځته کولو ته اړتيا نه لرو!؟ هغه دولت چې زموږ د مال، ځان، عزت او ناموس ساتنه کوي او د هر چا لپاره سيوری جوړوي!؟

**د حزب التحرير مرکزی مطبوعاتي دفتر ته**

**ليکواله: ډاکټر نسرين نواز**

**د حزب التحرير مرکزي مطبوعاتي دفتر د ښځو برخې رييسه**

**۱۴۴۲هـ.ق، د محرم ٢٦**

**۲۰۲۰م، د سپتمبر ۱۴مه**